کاونټي د الیګیني
SARA INNAMORATO
د کاونټی اجرائیوي مشره

محترمي مور/محترم پلار یا د ماشوم محترم سرپرست:

په پنسلوانیا ایالت کې د شري ناروغي لا هم خپریږي او د ایالت نورو سیمو ته رسیږي. شری یوه جدي ناروغي ده چې د ویروس له امله پیدا کیږي او ډیر ژر له یوه کس څخه بل ته خپریږي. شری په ښوونځیو کې په چټکی خپریدای شي، ځکه چې زده کوونکي او کارکوونکي ډیر وخت په ګډو خونو کې تیروي. د دې ناروغی د خپریدو له امله ښایي زده کوونکي د یو څه وخت لپاره ښوونځي ته ولاړ نه شي، چې له امله یې زده کړې ګډوډیږي.

شری څه ډول ناروغي ده؟
شری یوه ډیره ساري ناروغي ده چې د ویروس له امله پیدا کیږي. دا ناروغي دومره ژر خپریږي چې که څوک پرې اخته وي، نو له هغه سره له نږدې 10 کسانو څخه تر 9 پورې هغه کسان هم پرې اخته کیدای شي چې د شري پر وړاندې خوندي نه وي.

کله چې په شري اخته کس ټوخی یا پرنجی وکړي، دا ناروغي د هوا له لارې خپریږي. که په شري اخته کس له یوې خونې وتلی وي، نو بل کس د هغه له وتلو تر 2 ساعتونو پورې هم په هماغه خونه کې په شري اخته کیدای شي.

په شري اخته کسان د پوستکي د دانو له راختلو څخه 4 ورځې مخکې او د دانو له راختلو وروسته تر 4 ورځو پورې نورو ته دا ناروغي خپرولی شي.

د شري لومړنۍ نښې معمولاً له ویروس سره له تماس څخه شاوخوا له 7 څخه تر 14 ورځو وروسته څرګندیږي. د شري ناروغي معمولاً له تبې، ټوخي، د پوزې له بهیدو او د سترګو له سره کیدو سره پیلیږي. له دې وروسته پر پوستکي هواري سرې دانې راخیژي. دا دانې لومړی پر سر راخیژي او بیا د بدن نورو برخو ته خپریږي.

د دې ناروغۍ عامې ستونزې د غوږونو انتان او نس ناستی دي. د دې ناروغی په جدي ستونزو کې سینه بغل (د سږو انتان) او انسفلایټس (د مغزو پرسوب) شامل دي. د شري یوه بله احتمالي ستونزه د بدن د معافیتي حافظې له منځه تلل دي. دا د بدن په هغې وړتیا کې لنډمهاله بدلون دی، چې د نورو هغو ویروسونو او باکتریاوو په پېژندلو او پر وړاندې یې په مبارزه کې مرسته کوي چې بدن پخوا تري خوندي و. ځینې کسان چې په شدید شري اخته وي، ښایي په روغتون کې بستر شي یا ان خپل ژوند له لاسه ورکړي.

د شري له ناروغۍ څخه څنګه مخنیوی کیدای شي ؟
واکسین کول لا هم د شري د مخنیوي تر ټولو باوري او اغیزمنه لار ده. د شري، ډډبغوني او روبیلا (MMR) واکسین دوه دوزه د شري پر وړاندې 97% خوندیتوب ورکوي، او یو دوز یې 93% خوندیتوب ورکوي. زیاتره هغه کسان چې د MMR واکسین دوه دوزه یې اخیستي وي یا له 1957 کال مخکې زېږېدلي وي، د ټول عمر لپاره د شري پر وړاندې خوندي وي او د شري اضافي واکسین ته اړتیا نه لري. که کومې پوښتنې لرئ، له خپل ډاکټر یا روغتیایي کارکوونکي سره خبرې وکړئ.

که زما ماشوم په شري اخته شي، نو څه به کیږي؟
په شري اخته کسان د پوستکي د دانو له راختلو څخه څلور ورځې مخکې او د دانو له راختلو وروسته تر 4 ورځو پورې نورو ته دا ناروغي خپرولی شي. په دې موده کې هغوی ښوونځي یا کار ته نه شي تللی، په نورو فعالیتونو کې برخه نه شي اخیستلی او همدغه راز، باید په کور کې له نورو څخه جلا پاتې شي. که څوک له ناروغ سره په هغه وخت کې په تماس کې راغلي وي چې ناروغي یې نورو ته لېږدوی، او د دې ناروغۍ پر وړاندې یې معافیت نه وي ثابت شوی، نو باید قرنطین شي.

که زما ماشوم د شري په ناروغۍ د اخته کس سره په تماس کې راشي، نو څه به کېږي؟

هغه کسان چې د MMR واکسین یې کړی وي یا په بله طریقه یې د شري پر وړاندې معافیت ثابت شوی وي، له دې ناروغۍ سره د تماس په صورت کې هم کولی شي خپل عادي ژوند ته دوام ورکړي. هغه کسان چې د MMR واکسین یې نه وي کړی او په بله طریقه یې هم د شري پر وړاندې معافیت نه وي ثابت شوی، هغوی باید له ناروغ سره له تماس څخه 5 ورځې وروسته قرنطین پیل کړي او 21 ورځې په قرنطین کې پاتې شي. دا په دې معنا ده چې هغوی باید په کور کې قرنطین شي او په دې موده کې ښوونځي یا کار ته ولاړ نه شي او نه هم په نورو فعالیتونو کې برخه واخلي.

د ښوونځي د ماشومانو مور او پلار/سرپرستان څه کولی شي؟

واکسین کول د شري د مخنیوي تر ټولو ښه لار ده. که ستاسو ماشوم د MMR واکسین نه وي کړی، مهرباني وکړئ له خپل ډاکټر یا روغتیايي کارکوونکي سره خبرې وکړئ یا د واکسین لپاره د ملاقات وخت اخیستو په موخه د ACHD د واکسین کلینیک ته په 412-578-8062 زنګ ووهئ. که ستاسو ماشوم په شري د اخته کس سره په تماس کې راشي او واکسین پې کړی وي، نو قرنطین ته اړتیا نه لري.

هر څوک باید پوه شي چې آیا د شري پر وړاندې معافیت لري که نه. که تاسو د شري له ناروغ سره په تماس کې راشئ، نو په خپل معافیت پوهېدل له تاسو سره مرسته کولی شي چې له قرنطین څخه بچ پاتې شئ. که ډاډه نه یاست چې د شري پر وړاندې معافیت لرئ که نه، له خپل ډاکټر یا روغتیايي کارکوونکي سره خبرې وکړئ. ځینې کسان د خپلو واکسینونو ریکارډونه د ماشومتوب په یادګاري کتابچو کې موندلی شي. ځینې کسان د خپلو واکسینونو د ریکارډونو د موندلو لپاره د ماشومانو ډاکټر ته زنګ وهي. تاسو ښایي د پنسلوانیا ایالت د واکسینونو د الکترونیکي ثبت خوندي سیسټم د عامه پورټل له لارې د خپلو یا تر خپلې سرپرستۍ لاندې کسانو د واکسینونو رسمي ریکارډونو ته لاسرسی ومومئ. که ستاسو روغتیايي خدمت وړاندې کوونکي ستاسو د واکسینونو معلومات په خپله خوښه نه وي ثبت کړي، یا تاسو ډېر پخوا واکسین شوي یاست، یا مو په بل ایالت کې واکسین کړی وي، نو د واکسینونو د ریکارډونو د ترلاسه کولو لپاره د CDC د واکسینونو د معلوماتو سیسټم (IIS) د اړیکو وېبپاڼې ته ولاړ شئ.

د الېګیني کاونټی د روغتیا اداره (ACHD) څه کار کوي؟

روغتیايي خدمت وړاندې کوونکي او لابراتوارونه د شري د پېښو راپورونه ACHD ته ورکوي. د عامې روغتیا کارکوونکي هغو کسانو ته زنګ وهي چې په شري اخته شوي وي یا په شري له اخته کسانو سره په تماس کې راغلي وي. هغوی د دې معلومولو هڅه کوي چې خلک څنګه په شري اخته کېږي او څنګه د نورو کسانو د اخته کېدو مخه نیولی شي.ACHD د ښوونځیو له نرسانو، د ښوونځیو له مسوولینو او روغتیايي خدمت وړاندې کوونکو سره په ګډه کار کوي، څو ډاډ ترلاسه کړي چې هغوی د شري د احتمالي پېښو د پېژندلو او په دې اړه د اړینو ګامونو اخیستو لپاره ټول اړین معلومات لري. زمور موخه دا ده چې د الېګیني کاونټی له خلکو سره مرسته وکړو، څو روغ او جوړ پاتې شي.

نور معلومات له کوم ځای څخه ترلاسه کولی شم؟

- د ACHD د شري ناروغۍ معلومات
- د ACHD د واکسین کلینیک
- د پنسلوانیا ایالت د روغتیا اداري د شري ناروغۍ معلومات
- شري (CDC)
- د شري واکسین په اړه سپارښتنې | شري (روبیولا) | CDC
- د ACHD لارښود د هغو کسانو لپاره چې روغتیايي بیمه نه لري یا یې روغتیايي بیمه د درملنې ټول لګښتونه نه ورکوي

منه چې د الېګیني کاونټی د خلکو د روغتیا په ساتنه کې مرسته کوئ.

په درنښت،

Iulia Vann, MD

رئیسه، د الېګیني کاونټی د روغتیا اداره